**بسم الله الرحمن الرحیم**

# یوه لوېشت ځمکه

**(ژباړه)**

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«**مَنْ أَخَذَ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ بِغَيْرِ حَقِّهِ طُوِّقَهُ مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ**». (صحيح ابن حبان)

***ژباړه:*** *هر څوک چې یوه لوېشت ځمکه په ناحقه ترلاسه کړي، د قیامت په ورځ به له اوو ځمکو څخه همدا یوه لوېشت په غاړه کې ور اچول کېږي.*

دغه حديث شريف د خلکو د حقونو او پر هغو د تيري له حرمت څخه خبرداری ورکوي. رسول الله صلی الله عليه وسلم د يو ډېر خطرناک کار خبر ورکوي، چې الله سبحانه وتعالی به يې ترسره کوونکي ته سخت عذاب ورکړي. دغه خطرناک کار په ناحقه د مسلمان ورور د يوې لوېشتې ځمکې نيول دي او جزا يې دا ده چې د قيامت په ورځ به هر هغه څه له ځان سره د محشر ميدان ته راوړي، چې په ظلم او زور يې نيولي وي.

نو د هغو کسانو عاقبت به چې په ناحقه يې دومره ځمکې نيولې دي، څه وي؟! او څه ډول به مجازات کېږي. همدارنگه د هغو کسانو عاقبت به څه وي، چې په ناحقه د مسلمانانو خاورې نيسي؟ هغه کسان به څه ډول مجازات کېږي، چې ځمکه يې تباه کړې وي، اوسېدونکي يې ترې ايستلي وي او خاوره يې دښمنانو ته ورکړې وي؟! لکه نن ورځ چې د اسلامي خاورو حاکمانو د فلسطين مبارکه خاوره يهودو ته په ورکولو سره، چې د الله او د هغه د رسول او مسلمانانو دښمنان دي، تباه او برباد کړه؛ نو د الله سبحانه وتعالی پر وړاندې به د هغوی مجازات څه وي او د خپلو دغو کړنو په سبب به د څه ډول عذاب مستحق شي؟

له شک پرته چې الله سبحانه وتعالی هر مجرم او جنايتکار ته جزا ورکوي، مگر دا چې توبه وکړي او پرې يې بږدي. موږ ته پکار ده چې د هغه ظالم پر وړاندې ودرېږو چې د مسلمانانو مالونه لوټي، هغه نهې کړو او له دغه کار څخه يې منعه کړو؛ ترڅو د الله سبحانه وتعالی په مرستې او نصرت سره چې د خلافت دولت له دعوتگرو سره يې ژمنه شوې، زموږ حالت بدل شي.

له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې موږ ته توفيق راکړي، ترڅو ظالم ته ووايو «ته ظالم يې»، الله سبحانه وتعالی دې موږ او زموږ ملگرو ته حق را ورسوي او دغه دين ته په نصرت سره دې موږ ته عزت راکړي. اللهم آمين.

**لیکوال: ډاکتر ماهر صالح**

**ژباړه: بهير «وياړ»**